ماخذ تحقیقی مجلہ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-08

OPEN ACCESS

CC BY NC

**شبير احمد کاکړ**
ايم فل (پشتو) ريسرچ سکالر، پشتو ډيپارټمنت، بلوچستان يونيورسټي کوئټه
**ډاکټر عبدالرحمن کاکړ**
ليکچرر، پشتو ډيپارټمنت، بلوچستان يونيورسټي کوئټه

# په سهېلي پښتونخوا کښي د پښتو ادبي ټولنو پيل او پښتو ادبي غورځنګ کوټه

**Shabir Ahmed Kakar ***
MPhil Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan Quetta.
**Dr Abdul Rahman Kakar**
Lecturer, Department of Pashto, University of Baluchistan Quetta.

***Corresponding Author:**

## The beginning of Pashto Literary Societies in Southern Pashtoonkhua and Pashto Adabi Ghorzang Quetta

Southern Pashtoonkhwa has remained a part of Kandahar throughout history, meaning that the academic and literary center of this region was Kandahar. So we can say that the Pashto literature was begun from southern Pashhtoonkhua and then spread out to the rest of Pashtoon_Afghan Land. The first literary society in Southern PashtoonKhua was formally established in 1914 in the city of Loralai under the name of "Adabi Majlis Bazm". This society was established by Inayatullah Ayagh, Yousuf Popalzai, and Fateh Chand Naseem. A formal Pashto literary society in South Pakhtunkhwa was formed in April 1952 in Chaman city by the name of "Bazmi Adab Chaman" under the leadership of Sajjad Jafari, Tufail Sarwar, Sultan Muhammad Durrani, Amin Saba and Mian Muhammad. From 1952 until 2002 Pashto literary societies did a lot of work for Pashto literature in South Pakhtunkhwa through various societies. Despite active organizations like Pashto Academy Quetta, Pashto department UOB Quetta and Malgari likwal Quetta, Still there was a gap in

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-08

ماخذ تحقیقی مجلہ

Pashto literature that South Pakhtunkhwa needed to have an educational and training center through which Pashtoon youth could learn their native language and have a free Pashto library. To fill this gap, on January 20, 2002, a Pashto writer and poet, Muhammad Sadiq Zhark establishes a literary society "Pashto Adabi Ghorzang Quetta" with the help of a few friends.

**Key Words:** *Pashto Language, Pashto Literary Societies, historical background, literature, Foundation, Baluchistan.*

وړاندې تر دې چې د سهېلي پښتونخوا پر ادبي ټولنو يا تحريکونو خبره وکړو لومړى به په تحريك ځان پوهه کړو چې تحريك څه ته وئيل کيږي په ټولنه يا معاشره کې د بدلون راوستلو لپاره چې کوم حرکت د يو خاص مقصد او نظرئې تر سايه لاندې پيل کيږي او د خپل اهدافو د تر لاسه کولو لپاره څې کوې دې ته تحريك وئيل کيږي. تحريك يو اجتماعي عمل دى خو کله دا تحريك د يو کس په انفرادي هڅو په نتيجه کې هم مخ په وړاندې تللاى سي د تحريك په هکله ډاکټر نصيب الله سيماب ليکي

"تحريك هغه پاڅون ته وئيل کيږي چې هغه د يو خاص مقصد،
نظرئې او مرام لپاره په ټولنه کې راپورته کيږي"

(سيماب، ۲۰۲۱، مخ ۳۰)

دلته زموږ موضوع د ادبي تحريك سره اړه لري د ادبي تحريك څخه مراد هغه ټولنه چې مرام او مقصد يې تش ادبي هلې ځلې وي په ادبي چوکاټ کې د ننه په منظمه توګه د ژبې، ادب او تاريخ لپاره زيار باسي او خپل صلاحيتونه په کار اچوي تر څو هغه خپل مقصد تر لاسه کړي. د دې مقصد لپاره پوهان، شاعران، اديبان په منظم ډول له ادب سره تړلي د هري طبقې خلګ د دې ټولني برخه ګرځې دلاى سي. دا ټولنه خپل يو ائين او منشور لري چې تنظيمي کارونه پر مخ وړي په دې کې صدر، نائب صدر، سيکريټري، خازن او نوره پوره کابينه وي. دا ټولني ادبي او تنقيدي ناستي د هغه تر څنګ مشاعرې، لمانځغونډې، څېړنغونډې، سيمينارونه، د کتابو مخکتني، مجلې او ورځپاڼې هم خپروي او له همدې لارې ادبي کارونه پر مخ وړي.

> "A literary society is a group of people interested in literature. In the modern sense, this refers to a society that wants to promote one genre of writing or a specific author. Modern literary societies typically promote research, publish newsletters, and hold meetings where findings can be presented and discussed".

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-08

ماخذ تحقیقی مجلہ

ژباړه! ادبي ټولنه د ادب سره اړه لرونکې ټولني ته وئیل کیږي. په عصري معنی کښې دا هغه ټولنې ته وئیل کیږي چې د لیکلو یو ژانر یا یو ځانګړي لیکوال ته وده ورکړي. عصري ادبي ټولنې عموما ځېړنې ته وده ورکوي، خبرتیاوې خپروي، غونډې جوړوي او پر نوو څېړونو بحث کیدی شي.

سهېلي پښتونخوا په تاریخ کښې د کندهار برخه پاته سوې ده یعني د دې سیمي علمي او ادبي مرکز کندهار ؤ نو موږ داوئیلای سو چي د دې سیمي لومړۍ ادبي ټولنه په کال ۱۱۱٤ کښې د شاه حسېن هوتك په مشرۍ کي په نارنج مانۍ کښې جوړه سوې ده او دویمه ادبي ټولنه په کال ۱۲۱۲ کښې په کندهار کي د مهر دل خان مشرقي په مشرۍ کښې جوړه سوې ده ځکه چي هغه د غه سیمه په کندهار پوري تړلې وه خو په باقاعده توګه د دلته لومړۍ ټولنه په کال ۱۹۱٤ کي په لورلائي ښار کي د ادبي مجلس بزم په نوم جوړه سوه. دا ټولنه عنایت الله ایاغ، یوسف پوپلزي او فتح چند نسیم جوړه کړه دې ټولني کار ټول اردو ژبي ته کوی خو کله کله به په مشاعره کي د پښتو شعر او غزل ته هم وار ورکړېدی ځکه چي هلته اورېدونکي ټول پښتانه ول.

"مشاعروں میں اردو کے علاوہ فارسی او پاکستانی زبانوں براھوی، بلوچی،
پشتو او پنجابی زبان کا کلام پڑھنے کی اجازت تھی لورلائی میں شعرا
مشاعروں میں بہ نفس نفیس شرکت کر کے اپنا کلام پڑتے تھے"
(رحمان، ۲۰۲۱مخ ۱۱)

ژباړه: په مشاعرو کي د اردو تر څنګ د فارسي او پاکستاني ژبو لکه براهوي، بلوچي، پښتو او پنجابي شعرو وئیلو اجازت هم وو د لورلائي لویو لویو شاعرانو به په دګه مشاعرو کي ګډون کوی او خپل منظوم کلامونه به یې وئیل۔

له دې څخه وروسته شاو خوا په ۱۹۳۷ کي عبدالصمد خان اڅکزي د استقلال اخبار له لاري د پښتو لیك و لوست ته د خلګو ذهنونه متوجه کړل که څه هم استقلال د اردو ژبي اخبار ؤ خو بیا هم څه څه د پښتو لیك به پکښې ؤ.

"ښاغلی محمد امین کهوسه سره ناست پاست ؤ ګزاره یې
تنګه وه موږ سل روپۍ د میاشتي ورکړلې او د اخبار لیکلو
لپاره مي کوټي له بوت او اخبار مي پیل کړ اخبار په اردو ژبه ؤ ته څه
پښتو به مو هم پکښې لیکله"
(اڅګزی، ۲۰۰۷،مخ ۲۷۵)

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-08

ماخذ تحقیقی مجلّہ

د سهېلي پښتونخوا د لوړې ادبي ټولني په هکله د ليکوالانو بېلا بېل نظرونه دي ځينې ليکوالان " پښتو ټولنې" د سهېلي پښتونخوا لومړۍ ټولنه بولي په دې هکله مير حسن اتل په خپله مقاله کي ليکي چي

"د پښتو ټولنې يوه اهمه ځانګړتيا دا هم ده چي دا د سهېلي پښتونخوا لومړۍ ادبي ټولنه ده"

(اتل،۲۰۱۸،مخ۲۵۰)

همداسي سيال کاکړ هم په دې نظر دی چي پښتو ټولنې د سهېلي پښتونخوا لومړۍ ادبي ټولنه ده.

"د پښتو ټولنې غړو پرته له دستور العمل د چاپولو بل کار نهٔ البته دومره ضرور وسو چي په سهېلي پښتونخوا کي د ادبي ټولنې بنيادکښېښول سو".

(کاکړ، ۱۹۸۱،مخ۴۶)

همداسي نياز محمد کاکړ د خپل ايم فل په مقاله کي دا دعوه کوي چي پښتو ادبي ملګري لورلائي د سهېلي پښتونخوا لومړۍ ادبي ټولنه ده۔

"پښتو ادبي ملګري بوري لورلائي د سهېلي پښتونخوا لومړۍ ادبي ټولنه ده دغه ټولنه رب نواز مائل، سيد خير محمد عارف، سعيد ګوهر او د دوی نورو ملګرو په زيار په ۱۹۶۲ کال کښيي يې بنسټ کښېښودل شو"

(کاکړ، ۲۰۱۶،مخ ۶۹)

خو تر دې ټولنه لمخه هم په سهېلي پښتونخوا کي په باقاعده توګه يوې ادبي ټولني شتون درلودی ۔ دغه ادبي ټولنه په کال ۱۹۵۲م د اپرېل په مياشته کي په چمن ښار کي د سجاد جعفري، طفيل سرور، سلطان محمد دراني، امين سبا او د ميا محمد په سربراهي کي جوړه سوه او نوم يې "بزم ادب چمن" ؤ ګڼ شمېر مشاعرې او تنقيدي ناستي يې کړي د دې سره سره يې په کال ۱۹۸۵ کي د ملا عبدالسلام اشېزي د ديارلسم تلين په مناسبت د چمن په ښاروالۍ کي غونډه وکړه چي د سهېلي پښتونخوا لويو لويو ليکوالانو او شاعرانو خپلي مقالې کي واورولې لکه عبدالکريم بريالی، مقدس خان معصوم، صاحبزاده حميدالله، عبدالرؤف رفيقي، سيال کاکړ، سلطان محمد دراني، ابو لاخير ځلاند، سلطان محمد صابر، نعممت الله دراني او د سيمينار وروسته په مشاعره کي محمد رسول فريادي، عبدالکريم بريالی، عبدالباري اسير، عصمت الله زهير او ناظر صادق هم شتون درلود چي وروسته د دې سيمينار ټولي مقالې او غزلې په کتابي بڼه (د کوږک ستوري) په

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-08

ماخذ تحقیقی مجلّہ

نامه د چاپ په ګڼه هم و پسو لل شو خو دد غې ټولني خپل کوم معلوم دفتر نهٔ د هري ناستې او مشاعرې وروسته به د را روانې ناستي ځاى اعلان کېدى. د دې ټولنې لومړى صدر سجاد جعفري او جنرل سيکرټري يې سلطان محمد دراني ؤ. په دې هکله ډاکټر عبدالرؤف رفيقي په کوژك مجله کي ليکي:

"بزم ادب کے کئی مشاعرے ہوئے ہیں جن کی تعداد کوششوں کے باوجود اندازہ نہ ہو سکا بقول محمد امین سیاکہ ہر مشاعرے میں بیس بائیس شعرا شرکت فرماتے چونکہ بزم ادب کا کوئی مخصوص دفتر یا ٹھکانہ نہ تھا اس لیے ہر مشاعرے کے اختتام پر اعلان کیا جاتا کہ اگلا مشاعرہ آئندہ فلاں تاریخ کو فلاں صاحب کے دولت کدے پر ہوتا"

(رفيقي، ۱۹۹٤، مخ ۸۱)

له ۱۹۵۲م څخه راونيسې بيا تر ۲۰۰۲م پورې په سهېلي پښتونخوا کي د بلهاټولنو په ترڅ کي د پښتو ادب لپاره ډېر کارونه وسول د پښتو اکېډمۍ کوټې، د پښتو څانګې کوټې پوهنتون او ملګري ليکوال کوټې په څېر فعاله تنظيمونو باوجود په پښتو ادب کي يو داسي تشه په نظر راتله چي سهېلي پښتونخوا يو داسي بښوونيز او روزنيز مرکز ولري چي د هغه له لاري پښتنو ځوانانو او پېغلو ته خپله مورنۍ ژبه ورزدکړي او د پښتو يو آزاد کتابتون ولري د همدې تشي د ډکولو لپاره په کال ۲۰۰۲م د جنورۍ پر شلمه نېټه د پښتو ژبي تکړه ليکوال او شاعر محمد صادق ژړك د څو ملګرو عزت الله عابد، نسيم سبا، بشير نادم، نصير دمړ، نظام الدين کاکړ او نعمت دلشاد په ملتيايې په کوټه ښار جمال الدين افغاني روډ کي لومړى اجلاس وکړ او په همدې اجلاس کي يې د پښتو ژبي او ادب د خدمت لپاره د پښتو ادبي غورځنګ په نوم يو ه ادبي، نظرياتي او فکري ټولنه جوړه کړه چي د سهېلي پښتونخوا په مرکز کي د غه فرهنګي او ادبي بهير د ښوونيز او روزنيز تنظيم په ډول رامنځته کړى چي د دې لومړي اجلاس په پاى کي يې محمد صادق ژړك د ټولو په اتفاق رائې د شپږو مياشتو لپاره ارګنائزر او عزت الله عابد يې مرستيال ورسره وټاکی ـ د خپل فرهنګي او ادبي کارونو لپاره يې د کوټې ښار پر جمال الدين افغاني روډ دفتر پرانستی او له همدې ځاى څخه يې د پښتو ژبي او ادب کارونه پيل کړل په دې اړه پښتو ادبي غورځنګ په خپله مرامپاڼه کي ليکي چې

"د پښتو ادبي غورځنګ بنسټ ايښودونکو ځوانانو له ډېري مودي راهيسي د پښتني وطن پر لټو ګرځېدل او له ګڼو پښتني هستيو (پوهانو) ليکوالانو شاعرانو سپينږيرو سره يې ليده کاته وکړل او د پښتو د پر مختګ لپاره يې سلا

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-08

ماخذ تحقیقی مجلہ

> مشورې وکړي او په آخر کي دې نتيجې ته ورسېدل چي د پښتو لپاره ديو داسي غورځنګ (تحريك) اړتيا ده چي دهمدې غورځنګ له لاري د پښتو ژبي په پرمختګ کي هر هغه كار وکړي چي زموږ خوږه مورنۍ ژبه د نورو سيالو ژبو په کتار کي ودروي نو همدغه سپېڅلی احساس و چي پښتو ادبي غورځنګ يې رامنځته کړ".

(مرامپاڼه، ۲۰۰۲،مخ ۲)

پښتو ادبي غورځنګ د جوړېدو سره سم د بلوچستان ايالت په تاريخ کي په لومړي ځل د مورنۍ ژبو د نړيوالي ورځي په مناسبت پر ۲۱مه فبروری ۲۰۲۲م کي لاريون راوايست او د مطبوعاتو كلب مشر ته يې يادښت وليکی او د سهېلي پښتونخوا په تاريخ کي په لومړي ځل د مورنۍ ژبو نړيواله ورځ ولمانځله۔ دا هغه يواځينی تنظيم دی چي د جوړېدو سره سم يې د لر او بر وطن ليکوالانو او پوهانو ته داسي ډګر جوړ کړ چي ټول ه پښتانه ليکوالان او اديبان پر يو ځای د زړه خواله وکړي او د افغانستان او خيبر پښتونخوا د ليکوالانو کتابونه يې له هم دې خاوري څخه په دې موخه چاپ کړل چي د دې ځای لوستونکي له هغو ليکوالانو او ادب سره اشنا کړي ۔ په دې هکله لال پاچا ازمون په خپل يو نليك "دسلېمان د تخت تر سيوري" کښي ليکي.

> " پښتو ادبي غورځنګ د غه وياړ په برخه لري چي د صوبې په تاريخ کښې په لومړي ځل د ژبو پر نړيواله ورځ لاريون راويوست همداسي يې د خان شهيد پر فن او شخصيت باندي سيمينار جوړ کړ او تر اوسه پوري يې پر علامه عبدالشكور رشاد، علامه عبدالحی حبيبي، عبدالرؤف بېنوا، غني خان، غازي فيض محمد، اجمل خټك، پير محمد كاروان، رحمت شاه سايل، اغلې پروين ملال، زيتون بانو، سعيد ګوهر، افضل شوق، شفيق العالم معذوريار، محمد يار يار، عزيز الله ماما، امان الله تابان په ملتيا يې پر ډېرو پښتنو پوهانو، اديبانو، سياسيانو او مخورو باندي ګڼ شمېر نمانځغونډي، څېړنغونډي او يادغونډي کړي دي"

(ازمون، ۱۳۹۳ل، مخ۵۷)

دا تنظيم په داسي وخت کي رامنځته کيږي چي د پښتو ژبي او ادب ترټولو فعاله تنظيم "ملګري ليکوال کوټه" د ځينو وجوهاتو له وجي غير فعاله کيږي۔ په پر له پسې توګه يې داسي عالمي او بين الافغاني سيمينارونه، مشاعرې، يادغونډي او څېړنغونډي وکړې چي په هغه کښي د

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-08

لر او بر وطن څه لیکوالان او عالمان برخه کي اخسته۔ او پښتو ادبي غورځنګ کوټه په داسي وخت کي د پښتو ادب پر میدان د "لمبه" په نوم مجله پیل کوي چي په دې سیمه کي پر ته له "پالنه" نوري ټولي مجلې د ډیرو لاملونو له وجي ختمېږي په داسي حال کي "لمبه" د لر او بر لیکوالانو تحقیقي، تنقیدي او نور لیکني په آزادانه توګه چاپوي په چاپ شوي موضوعاتو کښې هم ادب ته وده ورکونکي مواد شامل دي چي څنګه یې نوم لمبه ده همداسي د پښتو، پښتونوالي، شعر، ادب او د حق پالني احساسات هم راپاروي او پښتو ادبي غورځنګ په شعوري او نظریاتي بنیادونو کوټه، کندهار، کابل او پېښور سره پېیلي دي په دې اړه د بېنوا فرهنګي ټولنه کندهار په یو پېغام کښې وائي

> "موږ د بېنوا فرهنګي ټولني او د پښتو ادبي غورځنګ تر منځ له پولادي کړیو جوړ د اړیکو کافر ځنځیر ته ګورو نو دا باور مو لا ټینګیږي چي فطرت بیا خپل کار کوي داسي ښکاري لکه نوک او وریږي چي سره نه بېلېدونکي دي. لکه چي تر منځ مو د بېلتون له پاره د وخت د ښامار غځېدلو هڅه لکه چي پرون ناکامه وه نن هم ناکامه ده او سبا خو به بیخي شرمېدلې وي.....موږ له ستر کندهاره (د بېنوا فرهنګي تولني) کړۍ د سهېلي پښتونخوا کوټي (پښتو ادبي غورځنګ) له کړۍ سره تړل غواړو"
>
> (لمبه، لومړی کال، دریېمه ګڼه، مخ۳)

د دې تنظیم تر ټولو لویه ځانګړنه دا ده چي د کتابونو د چاپ لپاره د پښتنو څخه (خیر د پښتنو نه د پښتو لپاره غواړمه) راټولوي او په همدې پیسو د پښتو ژبي لپاره کتابونه چاپوي او غونډي کوي ۔ د دې تنظیم لپاره په کال ۲۰۱۰ کي د هغه وخت سیکټري کلچر نصیب الله بازیي پنځه لکه سالانه ګرانټ منظور کړی چي د ۲۰۱۸م کال پوري یې دوام درلود او له هغه وروسته چي کله په ۲۰۱۸ کي د جام کمال حکومت راغلی نو د پښتو ژبي او ادب پر دې کارنده تنظیم دا لار هم بنده سوه۔ دې تنظیم لر او بر ټول پښتانه په داسي کړۍ سره اړ کړل چي پر هغه هیڅ جابرو کرښو اثر ونکړ په ټولنه کي یې هر لیکوال ته د هغه صلاحیتونه ورپه ګوته او څرګند کړل او د هر هغه لیکوال لیکلی اثر د چاپ په ګڼه وروپسولی چي هغه د ادب پر دنیا د ځلېدلو خوبونه لیدل۔ د پښتو ژبي د خدمت او دلیاب ډاینې لپاره یې په پښین ښار کي په کال ۲۰۰٤م کي د اکتوبر پر ۱۰ مه نېټه څانګه پرانستله چي عصمت زهیر یې مسؤل واسع کټکېزی یې مرستیال او صمد شبنم یې د مطبوعاتي چارو مسؤل وټاکل سول۔

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-08
ماخذ تحقیقی مجلّہ

"د دې غونډي په ترځ کي ښاغلی عصمت زهير د پښين ځانګـي مسؤل، ښاغلی عبدالواسع کټکـېزی مرستيال او عبدالصمد شبنم د مطبوعاتي چارو مسؤل وټاکل شو"

(لمبه،۲۰۰۳،مخ۱۰٦)

له هغه ځخه وروسته يې په غوځکۍ (زيارت) کي هم ځانګـه پرانستله چي ګـل ياسر کاکړ يې مسؤل جوړ سو او له هغه ځای ځخه هم د پښتو ژبي او ادب لپاره د پښتو ادبي غورځنګ غوځکۍ لخوا پيل سو او همدا راز يې په چمن کي هم د ځو وخت لپاره د خاکيار په مسؤليت کي ځانګـه پرانستله ـ په همدې ترځ کي يې تر اوس مهاله يې ۱۱۲ کتابونه او د ٦۳ يې مجلې چاپ کړي دي ـ په چاپ شويو کتابونو کښي يې نږدې د هر ډګـر سره اړه لرونکو موضوعاتو کتابونه لکه ادب، فلسفه، تنقيد، څېړنيز، شاعري، فولکلوريك، ناول او افسانې، لسانيات، ژباړي او نور درسي کتابونه شامل دي. د لمبه په نوم چي کومه مجله خپروي په هغه کښې چاپ شوي بېلا بېل موضوعاتو موضوعاتو کښي هم ادب ته وده ورکونکي مواد شامل دي ـ د دې ترڅنګـ يې په ۲۰۰۳ او ۲۰۰٦ کښي دوه عالمي سمينارونه له دې پرته يې بين الافغاني سيمينارونه، بلها مشاعرې، لمانځغونډي، يادغونډي، څېړنغونډي او نوري رسمي غونډي

دمورنۍ ژبو نړيوالە ورځ

دعلامه عبدالحی حبيبي دتلين يادغونډي

د (سکاسه) کتاب مخکتنه

دصمد خان اڅکزي دعلمي، ادبي او صحافتي خدمتونو په ياد کي لمانځغونډه

داروابښاد عبدالرؤف بېنوا د ۱۹ م تلين يادغونډه،

"لمبه" او "پالنه" د کره کتني پەرڼا کي،

دعبدالاحد محمديار پەوياړ څېړنغونډه،

پەپښين کي د پښتو ادبي غورځنګ پرانست غونډه،

دعلامه عبدالشکور رښاد يادغونډي،

د "لمبې" د دويم کال سکروټې په کره کتني پەمجمر کښي،

داجمل خټك پەوياړ څېړنغونډه،

دلمبه مجلې د دويم کال يون څېړنغونډه،

دعزيز الله ماما يادغونډه،

دوه پټ کي دوه ټيکري،

دامان الله تابان يادغونډه او د کتاب مخکتنه،

دپښتو ادبي غورځنګـ لس کلن جشن،

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-08

دعلي احمد كوهزاد يادغونډه،
دغني خان دسل كلن جشن په ویاړ دستوره،
دخيال دپېرزوينو مخكتنه،
دستې مخكتنه،
دنور محمدتركي دسلمي كليزي غونډه،
دريو نومونه، دريو وياړونه،
دسلې مان لائق ستائنغونډه،
دپروفيسر سيال كاكړ يادغونډه،
دپښتو ادبي غورځنګ شل كلن جشن،
دغني خان په ياد كي مشاعره، امن مشاعره، خاټول ګل دوديزه مشاعره، دعبدالباري جهاني په وياړ مشاعره، داباسين يوسفزي په وياړ مشاعره او شهيد عثمان كاكړ په نوم يې مشاعرې هم كړي دي نو له دې كار او خدمت څخه دا څرګندېږي چي دا واقعي يو كارنده تنظيم دی. پښتو ادبي غورځنګ په خپل شل كلن يون كي تر ۲۰۲۳م كال پوري ۱۱۳ كتابونه دچاپ په ګاڼه پسوللي دي۔
۱: پښتو نولي، قيام الدين خادم ۲۰۰۳م
۲: دپښتين لنډ تاريخ، عصمت زهير ۲۰۰٤م
۳: غرني ګلان (څېړنه) صادق ژړك ۲۰۰۵م
٤: پښتو څو ارلس سوه كاله پخوا، علامه حبيبي ۲۰۰۵م
۵: دكوټې تاريخ، عبدالله جان نورزی ۲۰۰٤م
٦: وچه لښته (ناول) ناظر صادق ۲۰۰۵م
۷: په كاكړې غاړو كي دپښتو سوچه توري «څېړنه» صادق ژړك ۲۰۰۵م
۸: انقلابي او مبارز شاعر (داجمل ختټك په اړه دمقالو ټولګه) ۲۰۰٦م
۹: فيض محمد غازي، عصمت الله زهير ۲۰۰٦م
۱۰: دملاقلندر شعري ټولګه، ترتيب او تدوين، نعيم ازاد ۲۰۰٦م
۱۱: څيري لمن، لوموړی شعري مجموعه، عبدالرحيم سوزانه، ۲۰۰٦م
۱۲: نړۍ پېژندنه، تلاش الكوزی، ۲۰۰٦م
۱۳: په يو يشتمه پېړۍ كي دپښتو ژبي برخليك، دمقالو ټولګه، ترتيب او تدوين، صادق ژړك ۲۰۰۷م،
۱٤: ادبي مقالې، واصل واسطي، ۲۰۰۹م
۱۵: دسروزرو مشكنړي، شعري ټولګه، حبيب الرحمان تاثير ۲۰۰۹م

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-08

ماخذ تحقیقی مجلہ

۱۶: غزل غزل خیالونه، شعري ټولګه صدیق الله مین ۲۰۰۹م

۱۷: دبنګ مسافري «ناول» نورمحمدتره کی. دچاپ زیار. ژړك ۲۰۰۹م

۱۸: سپین «ناول» نورمحمدتره کی، دچاپ زیارژړك، ۲۰۰۹م

۱۹: څړه «ناول» نورمحمدتره کی، دچاپ زیارژړك، ۲۰۰۹م

۲۰: سنګسار «ناول» نورمحمدتره کی، دچاپ زیارژړك، ۲۰۰۹م

۲۱: افغاني حماسه. محمدالدین ژواك

۲۲: تنڼاکي دخیال، شعري ټولګه، محمود ایاز، ۲۰۱۰م

۲۳: شعرونه او نقدونه، زرین انځور، ۲۰۱۰م

۲٤: دبزګر لور «لنډي کیسې» نورمحمدتره کی، ترتیب او تدوین: صادق ژړك اول چاپ ۲۰۱۰م دویم چاپ ۲۰۱۲م

۲۵: وخته راستون سه. شعري ټولګه، پروین ملال، اول چاپ ۲۰۱۰م دویم چاپ ۲۰۱۱م

۲٦: پښتو هنري نثر. ګفګیرش ژباړه معتمد شینواری ۲۰۱۰م

۲۷: منډیګك او دهغه اړیکي دسیند او بین النهرین سره، زمری محقق ۲۰۱۰م

۲۸: دمیني چینه، شعري ټولګه، نعیم ازاد ۲۰۱۱م

۲۹: نه وې ستابښ ایستې سترګي، شعري ټولګه، صادق ژړك ۲۰۱۱م

۳۰: مجبوري (لنډي کیسې) صادق ژړك ۲۰۱۱م

۳۱: سیندي اولسي کیسې ژباړه محمدحسن اغا ۲۰۱۱م

۳۲: کیا مین پاګل تها؟ اجمل خټك مترجم. اغازاهد ۲۰۱۱م

۳۳: هاری کي بيټي افسانے نورمحمدتره کی مترجم. جعفر ترین/ازاد ۲۰۱۱م

۳٤: کاکړي غاړي، مولف صادق ژړك ۲۰۱۱م

۳۵: دسندرو اوښکي، شعري ټولګه، عصمت الله زهیر ۲۰۱۱م

۳٦: تابان، شعري ټولګه، امان الله تابان ۲۰۱۱م

۳۷: کيږدۍ، سلېمان لایق ۲۰۱۱م

۳۸: سپرغکي، سلېمان لایق ۲۰۱۱م

۳۹: دبهایي جان کلیات، ترتیب حبیب زوئ ۲۰۱۱م

٤۰: دتابان یاد، دمقالوټولګه ۲۰۱۱م

٤۱: سراج الموتی، شمس الدین غلجي، کریم عامر ۲۰۱۱م

٤۲: سپځلي کردارونه، نورالامین یوسفزی ۲۰۱۲م

٤۳: افسانوي وراشې، ژباړونکی. نویدارین ۲۰۱۲م

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-08



٤٤: سردار عبدالرحمن او روسان، راټولونکو او ژباړه طاهر کاڼی ۲۰۱۲م

٤٥: برغون، طاهر بخاري ۲۰۱۲م

٤٦: دفخر افغان ځانګړني «ځېړنه» صادق ژړك ۲۰۱۲م

٤٧: بې تربيته زوی. ناول نور محمد تره کی ترتيب او تدوين. صادق ژړك ۲۰۱۲م

٤٨ : نور دي نه يادوم، شعري ټولګه انعام الله ګوهر ۲۰۱۲م ٤٩: تنقيدي فيصلې، فې صل فاران ۲۰۱۲م

٥٠: نېك مرغه خاوره، ناول نعيم ازاد ۲۰۱۲م

٥١: ستی (لنډي كيسې) جعفر ودان ۲۰۱۲م

٥٢: شمله ور پښتانه، دويمه شعري ټولګه عبدالرحيم سوزانه ۲۰۱۲م

٥٣: دپښتو نخوا داستاني ادبيات (مقالې) بيا چاپ ترتيب نعيم ازاد ۲۰۱۲م

٥٤: دپخوانيو تهذيبونو كيسه، جلال پوري ژباړه نويدارين ۲۰۱۲م

٥٥: پولاد څنګه كلك ېده؟ ناول نيكولای استروفسكي ژباړه. زېور ۲۰۱۲م

٥٦: سندري په سويو واټونو كي, سلېمان لايق ۲۰۱۳م

٥٧: دشېخ قاسم سلېماني تذكره، تاليف غلام قدوس ترجمه همېش خليل ۲۰۱۳م

٥٨: مهالنی افغانستان د تاريخ په اوږدو كي، احمد علي كهزاد ژباړه نعيم ازاد ۲۰۱۳م

٥٩: دلمبې په مجمر كي (مركې) صادق ژړك ۲۰۱۳م

٦٠: تهذيبي ځان خوښونه مبارك حيدر ژباړه نعيم ازاد ۲۰۱۳م

٦١: انسانستان، محمد انور نوميالی، چاپ كال ۲۰۱۳م

٦٢: سرې غونچې، اجمل خټك، ترتيب او تدوين صادق ژړك ۲۰۱٤م

٦٣: وسوسې او تلوسې ډاكټر امين تنها ۲۰۱٤م

٦٤: اولسي فكري تېروتني، علي عباس جلالپوري، ژباړه نعيم ازاد ۲۰۱٤م

٦٥: دژبښووني آرونه، عبدالغفور لېوال ۲۰۱٤م

٦٦: دماسټر كريم ژوند او فن (ايم فل مقاله) اشفاق احمد وطنيار ۲۰۱٤م

٦٧: دنور محمد تره كي داستاني كليات ترتيب او تدوين. صادق ژړك ۲۰۱٤م

٦٨: كاروان (ډرامه) عبدالاكبر خان اكبر ترتيب او تدوين. صادق ژړك ۲۰۱٤م

٦٩: زرزريني خبري، نعيم ازاد ۲۰۱٤م

٧٠: سياسي اوټولنيزي ګړني. الف كب، نعيم ازاد ۲۰۱٤م

٧١: كوټه (لنډه تاريخي جايزه او دوولس مقالې) سلطان محمد پاني ترتيب او تدوين صادق ژړك ۲۰۱٥م

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-08




۷۲: ریالیزم او ضد ریالیزم د کتور مینر اژباړه لطیف بهاند ۲۰۱۵م

۷۳: کلتور پوهنه، دو کتور لطیف بهاند ۲۰۱۵م

۷٤: انفرادیات باچاخان، صادق ژړک مترجم اجمیر افغان ۲۰۱۵م

۷۵: د خیال پیرزویني، نعیم ازاد ۲۰۱۵م

۷٦: د ملا سلام اشېزي انداو هنر، نعیم ازاد ۲۰۱۵م

۷۷: ژوري فکري تېروتني، مقبول طارق ژباړه نعیم ازاد ۲۰۱٦م

۷۸: د خیال څو توري مزل، نعیم ازاد ۲۰۱٦م

۷۹: څوك په رضا له ملکه نه ځي. شهیم کاکړ

۸۰: لویدیځ شعریات. ژباړه نعیم آزاد

۸۱: تاریخ پرون او نن، ډاکټر مبارك علي ژباړه نوید ارین ۲۰۱۷م

۸۲: آزاد نظرونه لومړی ټوك. نعیم آزاد

۸۳: انتظار «لنډي کیسې» ناظر صادق ۲۰۱۸م

۸٤: په سهیلي پښتونخوا کي د پښتو ناول تحقیقي او تنقیدي جایزه، یوسف ساحل ۲۰۱۸م

۸۵: ملایان او سیاست، ډاکټر مبارك علي ژباړه نعیم ازاد ۲۰۱۸م

۸٦: تنقیق، سمیع الدین ارمان ۲۰۱۸م

۸۷: دستار «لنډي کیسې» ډاکټر نصیب الله سیماب ۲۰۱۹ م .۸۸: د مېړني سندري, شعري ټولګه عین الدین لمبه ۲۰۱۹م

۸۹: د ننګیالي سندري, شعري ټولګه عین الدین لمبه ۲۰۱۹م

۹۰: د شاه زلمي سندري، شعري ټولګه عین الدین لمبه ۲۰۱۹م

۹۱: د ویښ زلمي سندري، شعري ټولګه عین الدین لمبه ۲۰۱۹م

۹۲: ته یو څو لېونۍ وکه «ناول» قادر مجرم ۲۰۲۰م

۹۳: اجنبي سړی، پښتو اردو شعري مجموعه، غازي خان جاذب ۲۰۲۰م

۹٤: د باچا خان تاریخي تقریرونه، ترتیب محمد صادق ژړك، ۲۰۲۲م

۹۵: د ډاکټر نجیب شهید ویناوي، ترتیب عبدالرحیم بختاني خدمتګار، ۲۰۲۲م

۹٦: ویده ښکلا، محمد صادق ژړك، ۲۰۲۲م

۹۷: پښتو مناثره، ترتیب محمد صادق ژړك، ۲۰۲۲م

۹۸: فرانکېسټین ناول، ژباړه حبیب وقار، ۲۰۲۲م

۹۹: د چونغړ ترانې، سلیمان لائق، ۲۰۲۲م

۱۰۰: دوزخ په جنت کي، محب زغم، ۲۰۲۲م

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-08

**۱۰۱: لیکنښې، اکاډمیسنم، ظاهر افق، ۲۰۲۲م**

**۱۰۲: پښتو ښراوي، مطیع اللې روهیال، ۲۰۲۲م**

**۱۰۳: ګاونډي روسیکي ناول، ثناړه حبیب وقار، ۲۰۲۲م**

**۱۰۴: ځانمرګې ناول، محب زغم، ۲۰۲۲م**

**۱۰۵: دفولکلور شهۍ، سلیمان لائق، ۲۰۲۲م**

**۱۰۶: لهمردانه تر کوکناره، نورالبصر امن، ۲۰۲۲م**

**۱۰۷: په کلتوري انقلاب کې دعام او خاص خصوصیتونه، ژباړه دولت محمد لودین، ۲۰۲۲م**

**۱۰۸: استیتیک مقولې، پروفیسر اونرز/ژباړه اکبر کرګر، ۲۰۲۲م**

**۱۰۹: دجبر او اختیار ډیالکټیک، بهاوالدین مجروح، ۲۰۲۲م**

**۱۱۰: دلیکوال کار، ژباړه نظري اریانا، ۲۰۲۲م**

**۱۱۱: تعادل په ژوند او ادب کې، ژباړه عبدالهادي هدایت، ۲۰۲۲م**

**۱۱۲: رنې شپې، ژباټه یوسف صابر، ۲۰۲۲م**

**۱۱۳: جمیله ناول، ژباړه ملک پرهیز، ۲۰۲۲م**

**له دې ټول بحث څخه موږ دې پایلې ته رسیږو چې د سهېلي پښتونخوا لومړۍ ټولنه په چمن ښار کې په کال ۱۹۵۲م د اپریل په میاشته کې جوړه سوه۔ بل پښتو ادبي غورځنګ کوټه په کال ۲۰۰۲م کې جوړ سوی دی او خت داتنظیم ۲۱ کلن دی چې تراوسه یې ۱۱۳ کتابونه او ۶۳ دلمبه په نوم مجلې خپرې کړي دي۔**

حوالې

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-08

(۱)سیماب، نصیب الله، ۲۰۲۱، تصورات، رجحانات او تحریکونه، پښتو اکېډمۍ بلوچستان کوټه، مخ ۳۰

(۲)www.wikipedia.org 16oct2023
(۳)رحمان، ډاکټر ضیا، ۲۰۲۱، قندیل خیال، منیر اینډسنز پرنټنګ پریس لاهور، مخ ۱۱
(٤)اڅکـزی، ۲۰۰۷، خان شهید عبدالصمد خان، زما ژوند او ژوندون، دریم ټوك، لخوا پښتونخوا خپروونې، مخ ۲۷۵۔
(٥)اتل، میر حسن، ۲۰۱۸، د پښتو ټولنې بنسټ ادبي او سیاسي موخې، لیکني مجله، جولائي تا دسمبر مخ ۲۵۰.
(٦)کاکړ، پروفیسر سیال، ۱۹۸۱، پښتو او پښتانه په سهېلي پښتونخوا کې، قلات پبلیشر کوټه، مخ ٤٦
(۷)کاکړ، نیاز محمد، ۲۰۱٦، ایم فل مقاله ناچاپه، بلوچستان پوهنتون کوته، مخ ۳۱۔
(۸)رفیقي، ډاکټر عبدالروف، ۱۹۹٤، بزم ادب کهبی اور ابهی، کوژك مجله لومړی ګڼه، ګورنمنټ ډګري پوهنځی چمن، مخ ۸۱۔
(۹)مرام پاڼه، ۲۰۰۲، پښتو ادبي غورځنګ کوټه، مخ ۲
(۱۰) ازمون ، لال باچا(۱۳۹۳ل) د سلېمان د تخت تر سیوي، د ختیزي سیمي لیکوالانو او ژورنالسټانو خپلوا که ټولنه، مخ ۵۷
(۱۱)لمبه، لومړی کال، درېیمه ګڼه، پښتو ادبي غورځنګ کوټه، مخ ۳.
(۱۲)لمبه، ۲۰۰۳، پښتو ادبي غورځنګ کوټه، مخ ۱۰٦